مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۱/۱۲/۲۹

# د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

## دويم توک

### دری شپېتمه برخه

## فراه

او

## د افغانستان سويلي برخې

## تصحيحات

## ډاکټر لوډويک . ډبليو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973
**لودويک آدمک**

**خاش:** خاش روږ: ۱۰ – ۳۱ تر ۴۰ – ۳۲، ۰۰ – ۶۲ تر ۰۰ – ۶۴: دا يو سيند دی چې د زمينداور د ولسوالۍ د باغران د علاقه دارۍ لويديځې پولې ته نېږدې د سياه بند له غرنۍ لړۍ ښخه سرچينه اخلي او د سويل لويديځ لوري په نيولو سره د ګلستان له منځه تېرېږي او بيا د فراه – ګرشک ترمنځ سړک ښخه له دلارامه تېرېږي او بيا د يوې دښتې له منځه تر هغو ځغلي چې خاش ته ورسېږي او بيا له همدې ځايه په وړاندې تللو سره د اشکانِ چخانسور له منځه اوړي او نورې هر ښومره اوبـهٔ چې ورپاتې کېږي هامون ته ئـې ورغورځوي.

په ۱۸۸۵ ز کال کې امام شريف د غور په سويل ختيځ کې د خواجه معروف د کلي له سويل ښخه وخوځېد "دی له يوهٔ آسانه کوتله «خشکي روږ» يعنی «خاشرود» ته راکوز سو، د سيند د اوبو سرچنې ته ورسېد او بيا له يوې آسانې تنګې درې ښخه واوښت او چغامان" ته راغی. نوموړی له دغـهٔ ځايه په اوښتلو د پُشتِ روږ ولسوالۍ ته ورسېد.

د همدغـهٔ کالِ د اپريل په مياشت کې صاحبداد خان چې د افغان سرحدي حکميت بل غړی وو له چغامان ښخه ښو مايله کښته له خاش ښخه واوښت، نوموړی د تجوين پر لارې د بادام مزار له لارې تيزني ته راغلی وو. دلته دره ۱۰۰ يارډه پراخه ده او د سيند اوبـهٔ ددرې په ختيځې ډډې کې چې شمال – سويل لوری لري بهېږي؛ د سيند پلنوالی ۵۰ يارډه دی؛ ژوروالی ئـې دو نيم فيټه دی؛ د سيند بستر له جغل او شګو ډک دی، د سيند دواړه غاړې ټيټې دي؛ له سينده اوښتل کومه ستونزه نـهٔ لري. له دې لږ نور کښته د مالدارانو ۲۰۰۰ کېږدۍ وې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

د یادونې وړ ده چې له تجوین څخه تیزنیو ته عمومي سړک د ګرُز له لارې ځي او لړ نور کښته له سیند څخه په یوۀ ځای کې تېرېږي. دلته د سیند غاړې شیوه او ډبریني دي او سیند دلته ځکه چټک بهاندی دی چې همدغـۀ ځای کې ئـې بستر تنګ کېږي او له دې چې دلته د سیند اوبـۀ تېزې وي او له سینده اوښتل ناشوني ول نو ځکه صاحبداد خان اوږده لاره ونیوله. خو ویل سوي چې د سپمتبر د میاشتې له لومړیو څخه بیا د مارچ د میاشتې تر پایه سیند کې چنداني اوبـۀ نـۀ وي او تیرېدل ورڅخه آسانه وي، خو له دې سره سره دغـۀ ځای د توپونو او درندو پوځي وسایلو د تیرولو لپاره عملي نـۀ دی. دا دره هرڅومره چې سویل لور ته ځغلي هماغومره تنګېږي او له دې کښته د څو غرنیو ستونو یا تنګیو له کبله بل کوم سړک یا لاره نـۀ سته.

بل تکی چې په هکله ئې که معلومات ولرو د واشیر – دولت آباد تر منځ له سینده د اوښتلو ځای دی. دلته سندرز د جولای په میاشت کې راغلی وو چې سیند ۳۷ یارډه پلن او یو نیم فیټ ژور وو او د ډېو د روانو اوبو چټکوالی ئې په ساعت کې یو مایل او د مایل د ربعې په چټکوالي وو. ویل سوي چې په پسرلي کې د اوبو بهیر ویروونکی دی.

لړ کښته په «بار» کې له سینده د تیریدلو لپاره د ګرشک – فراه تکی راځي، بیت وایي چې دلته «روډ» ښـۀ دی، پلنوالی ئې ۳۰ یا ۴۰ یارډه دی او (د مې په میاشت کې) ژوروالی ئې ۲ فیټه دی. نوموړی وایي:

" له سینده د پورې غاړه اوښتلو ځای دایروي دی خو عالی دی او زما کچرې له اوبو څخه په آسانۍ تیرې سوې، اوبـۀ یوازې ددوی تر زنګنو پورې وې. ویل سوي چې دا سیند په دوبي کې په بشپړ ډول وچ وي، حتی همدا اوس هم چنداني ډېرې نـۀ دي، ددې ځای خلک وایي چې ددې سیند اوبـۀ هامون ته لا نـۀ رسېږي، دا سیند په خپله د سیلابونو پرمهال هامون ته ورغورځي خو چخانسور ته له رسیدو مخکې ټولې اوبـۀ ئې کارَول کېږي. د سیند بستر د نیم مایل په اندازې پلن یا ارت دی او منځ ئې په دنګو دنګو بوټو او د شین غزي په ځنګل ډک دی، یو لړ شمـېـر د ولې ونې هم لري او یو شمېر توري زرکې «کبک»، یو شمېر وحشي خوکان، هندۍ زرکې، د کانو یا غرنۍ زرکې، سویان «خرګوش» او شنې صحرایي کفترې لري. دا د سیند هغه ټیټې غاړې دي چې سړک ورڅخه تېرېږي او هیڅ ډول ستونزې نـۀ رامنځته کوي. دلته هر څیرته د سون لرګي پریمانه دي خو د اړتیا وړ خوراک توکي دلته قطعاً نـۀ سي تر لاسه کېدای، یوازې یو استثناء چې سته « خسیل[1]» ده چې په پسرلي کې له کرنیزې ځمکې تر لاسه کـېـدای سي". (خسیل: دانه باب چې له رسیدلو یا پخیدلو مخکې د څارویو لپاره د شنو وښو په توګه ئې کاروي). بیت هغه مهال له «بار» څخه لیدنه وکړه چې خاشرود سیلابي وو. اوسني معلومات وایي چې د سیند بستر په دلارام کې نیم مایل د سیند له یوې ژۍ څخه تر بلې پورې ارت دی او معمولاً ددوبي په وروستیو کې ان تر مني پورې تقریباً وچ کلک وي. (لیسستر: له بومي معلوماتو څخه.)

دلارام ته تللی سړک په ټوله لاره کې د خاش د سیند په ښۍ غاړه کې پر مخ ځي، دا یو نسبتاً ښـۀ او هموار سړک دی؛ د لارې په اوږدو کې د اوښانو پریمانه څرځایونه سته او هم یو شمـېـر د «کیرته[2] » بوټي سته. له خاش څخه تر ۱۵ مایلو پورته د لارې په اوږدو کې نـۀ د استوګنې سیمې سته او نـۀ هم د اړتیا وړ توکي . له دلارامه کښته د نورزیو کوچیانو څو کورونه سته. موږ ته په خاش کې وویل سول :" سیند د ژمي په بارانونو ډک وي خو په دوبي کې اوبـۀ نـۀ

[1] - khasil : ګومان کوم دا په پښتو کې کوم زراعتي لغت دی ځکه ما په قاموسونو ډاټ کام کې د پښتو انګلیسي په لوی قاموس کې په انګریزې شرحې همدا لغت ولید او معنی مې په قوسینو کې پورته ولیکله. - ژ
[2] - kirta : کیرته انګلیسي لغت نـۀ دی. ښایي لیکوال هم ورته معادل لغت نـۀ درلود او دا هم ښایي سیمه ییز نوم وي چې زه ژباړونکی ئـې په معنی پوه نـۀ سوم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونـه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لري." له خاش څخه تر چخانسور پورې څو سرکونه سته چې د سيند پر دواړو غاړو پر مخ ځي. له خاش څخه ښايسته پورته زموږ مخې ته ډېرې کرنيزې کروندې راغلي او له خاش څخه کښته پريمانه ځمکې سته چې غلات په کې کرل سوي دي. د خاش په ولسوالی کې د سيند په بستر کې د اوبو چينې سته چې د اوبو ډنډونه ئې جوړ کړي دي خو په وچ فصل کې د اوبو د بهيدلو دائمي بهير نـۀ سته. ددې سيند د اوبو ستره برخه د لـځې د خړوبولو کانال اخلي چې د لـځي له بنده پورته سرچينه اخلي. د اوبو يو خوړ د «شيشاوې» کلي ته نـږدې له دغـۀ سيند سره يو ځای کـېږي دا خوړ د شيشآوه روډ په نامـۀ يادېږي.

له خاش لږ کښته يوه دښته ده چې ځان سيند ته په متناوب ډول نـږدې بيا ليرې کوي او دا د وړو وړو خليجونو د جوړيدو لامل کـېږي او د سيند په رسوبي خاورو ډک کـېږي چې خپله په آسانی سره ښـېرازه ځمکه جوړوي او په آسانی سره په کښي کار کـېدای سي. له «راضي» څخه لږ کښته دښته د سيند بستر ته نيږدې راغونجېږي، بيا په هليلي او گيکان کې سره لـېرې کـېږي.

له «راجای[3]» پورته د سيند په بستر کې د اوبو چينې سته، خو لږ کښته د سيمي اوسيدونکي خپلي اوبـۀ د سيند په بستر کې له جوړو سويو څاه گانو او يا د سيند د غاړو له څاه گانو څخه اخلي. له راجای پورته يو ځروبی «آبشار» يا گړندی اوبـۀ دي او ويل کـېږي چې ۸ فيټه لوړ دی؛ تر دغـۀ ځروبي لاندې د اوبو يو لوی ډنډ دی چې کبان په کې سته او خلک وايي چې دا ډنډ هـېڅکله نـۀ وچـېږي. په دغـۀ ټکي کې د سيلاب پر مهال ددې ځروبي د اوبو غرغرانده غږ د " گورگوري" صوتي نوم اخيستی دی.

د سيند بستر له هغـۀ ټکي څخه چې پيکاک ورته ( د چخانسور له ختيځې خوا) څو مايله وړاندې رسـېدلی وو ټول په بوټو يا «د اشک ځمکه» يعنی د غز ځنگل معمولی مخ خلاصی ځنگلزار وو. دلته کومه ځانگړې شيله يا خوړ نـۀ سته او اوبـۀ په برابر ډول د هموارې دښتي پرمخ تيتيږي او د سيند خولـۀ يا مصب جوړوي. واقعيت دا دی کله چې د اوبو ټول بهيرونه د نيمروز تقريباً په بشپړ ډول هموارې سطحي او د يا نيمروز الحاقيي «اشکان» ته ننوځي اوبـۀ د يوې پراخي دښتي پر مخ بهـېږي او ډېر ژر په دې ډول ورکي کـېږي چې څوک گومان کوي کوم جهيل ته ورلوېږي.

د چخانسور د ختيځ لوړه ځمکه د خاش په شمالي ډډې کې په گړنگونو کې پای ته رسـېږي چې لوړوالی ئـې له ۳۰ تر ۷۰ فيټو پورې دی. دا گړنگونه داسې ښکاري چې د لوړې سطحي په جلا سوې برخې پورې اړه ولري او پيکاک ئـې نومونه له شماله تر ختيځه پورې په دې ډول اخلي: دشتِ خواجه سياه پوش، دشتِ لار (ددې سويل لويديځ ته نـږدې يوه ستنه ولاړه ده)، او دشتِ کده، وروستنی يعنی دشت کده د ټولو له پاسه په شمالي – ختيځواله سکښت شا ته غځـېږي. که له سويلي ډډې ورته وگوري په دې لوړې سطحي کې دغـۀ ځرگند انقطاعات سته د خسپاس روډ، د خار روډ او د شور روډ. د ابراهيم آباد له کلا څخه چې اوس (۱۹۰۵ز کال) د «دِۀ دادِ خدا» په نامـۀ يادېږي شمالي لاره د هابيل تر مقبرې پورې له سره تر پايه په نيزارونو او «اشک ځمکې» (يعني د «اشک په نامـۀ د يوۀ بوټي» ځمکې) د خاش، خار او خسپاس د روډونو د ستري خولي تر ها خوا پورې پرمخ تللي ده. کله ناکله د ۲۰ تر ۳۰ فيټو پورې وړې وړې پُښتي يا غونډۍ د لارې په اوږدو کې په سترگو کـېږي چې د هموارې دښتي له پاسه مسلطي ولاړې دي. د سيلاب د لوړوالي اندازه چې د ماتو سويو بوټو او نورو لکه سيلاب راوړو شيانو له مخې په آسانی په نـښـه کـېدای سي او کولای سو نښـې ئـې د لوړو سطحو په بيخونو کې وگورو؛ او له دغو طبيعي نښو څخه په قضاوت ويلای سو چې سيلاب به د

[3] - Rajai


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

سیند له بستره د لوړې ځمکي په بیخ کي تر ۳ فیتو پورې جګ سوی وي او د خپلو اوبو د تګ په بهیر کي ئـي د اوبو د تګ لارې پرېښودلي دي. دغه پُښتي یا غونډۍ عمدتاً د لارې په اوږدو کي او پورته د یاد شوي سیند د خولي ورهاخو هم د یوې لړۍ په توګه موجوده دي او کېدای سي پر سرونو باندې ئـي لارې جوړې سي. په دواړو غاړو کي د پلني نیزار ځمکي مخ خلاصی غځون په هیڅ خوا یا هیڅ لوري ته د اوبو د بهیدلو د بهیر لړ تر لږه کومه نښه نـهٔ ښیي او ډېره به ګرانه وي چي د خاشروډ د سیند کوم ټکي ته د «خاشه یا خاشي» په شان ځانګړی نوم ورکړو. په اتم مایل کي یو محتمل ټکی سته چي کېدای سي هماغه وي. " نقشه خاراو خسپاس ښیي چي دوی نیغ په نیغه په اشکینک کي تشـېږي.

د اوسنیو راپورونو له مخي موږ کولای سو ددې ځای دقیق منظر وګورو، خو له دې سره سره هماغسي چي پیکاک ویلي ول کله چي د اشکینک د سیلاب پرېښودولو د لوړو ځایونو له نښو کښته راځئ ګرانه ښکاري چي د سیند د اوبو د بهیر نښه تعقیب کړو ځکه له (۱۹۰۴ز) کاله مخکي د راپورونو په پرتلي اوس ډېرې اوبـهٔ دي. ویلای سو چي کـېـدای سي خاشروډ د چخانسور د شمال لویدیځ په یو مایلی او یا لږ ډېر واټن کي اشکینک ته ننوځي، او خار او خسپاس د هابیل د مقبرې په ټکي کي سره ننوځي. د چخانسور د شمال په یو نیم مایلی کي د اوبو یو کانال سرچینه اخلي او په اشکینک کي ځغلي او د کلا له ختیځي ډډې څخه اوړي او په همدغهٔ لوري کي کرنیز پټي خړوبوي. (ایس. ایم. تییت. له بومي معلوماتو څخه.)

د چخانسور ګرد چاپیره کلي د خاشروډ په اوبو خړوبـېږي. دا سیمه حاصلخیزه ده او پریمانه غلات، بوسه او واښـهٔ تولیدولای سي. کله چي اشکین یا اشکینک ته ورسـېږي د «اشک» په نامـهٔ د بوټو یو ډول دی چي د آسونو لپاره ښـهٔ خوراک دی او دلته دا بوټي په پریمانه اندازه شنـهٔ کـېږي. د خاشروډ کښتنی برخه د جون د میاشتي تر پایه پورې وچ وي او کله چي د ۱۲۰ ورځو سیلۍ یا توپاني باد په شدت پر سیمي را خپور سي نو تر ژمي پورې همداسي پاتي کـېږي. د سیمي استوګن وګړي خپلي اوبـهٔ د کلیو له څاه ګانو یا د خاشروډ له سیمه ییزو ډنډونو څخه چي دوی ئـي «کـُـمب» بولي اخلي. که خاشروډ وچ وي نو اوبـهٔ د سیند د بستر په کیندلو سره ترلاسه کـېږي. (ایس. ایم. بومي معلومات ۱۹۰۴).

لاندېنی جدول د قـُـلبو او د تخم اندازه ښیي چي د ۱۹۰۳ – ۱۹۰۴ز کال په پسرلي کي او د ۱۹۰۴ز کال په مني کي کرل سوي دي. جدول د کلیو پر بنسټ سمبال سوی دی.

نور بیا

**د چخانسور تبابه**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک ټولی او دوېم ټوک ټولي برخي لوستی شی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ